# د محمد صديق پسرلي په غزل کښې عقلي او حسي تشبيهات

## An Analysis of Metaphores in the *Ghazal* of Muhammad Sidiq Pussarlai

Dr Liaqat Tabaan*

## Abstract:

This paper particularly traces the delicate simile and allegories of the late Muhammad Sidiq Pussarlai, the reckoned Pashto poet of the 20th and 21st centuries. In this paper the wuthor has unfolded the historical dimensions of the Indian style of poetic expression. The roots of the allegory/simile of the poet Muhammad Sidiq Pussarlai have been traced back to the Indian style of poetic expression. It also exhibits that, the poet proved to be the most prominent amongst his peers especially for writing in the Indian style of poetry.

هندي سبك په نهمه هجري پېړۍ کښې د تيموريانو د باچهۍ په وروستيو کښې پيل شوی دی چې بنسټ يې په هرات کښې جامي هروي (898- 817هـ ق) کښې ايښی ؤ او بابا فغاني شيرازي د هنر او پرمختګ و لوړ بام ته ورسوی. ښايي چې هندي سبك د افغانستان په هرات کښې پيل شوی وي نو ځکه هندي سبك ته که هراتي سبك وويل شي نو بې انصافي به نۀ وي، که څۀ هم دا سبك په ايران او ګډ هندوستان کښې و خپل اوج ته ورسېدی.

په اردو او پارسي ژبو کښې يو شمېر شاعران د هندي سبك پېرويان شول چې په هغو کښې مولانا جامي، بابا فضاني وحشي بالفقي يزدي، سيد جمال الدين عرفي شيرازي، فيضي دکني نظيري نيشاپوري، طالب آملي، غني کشميري، صائب تبريزي، مرزا عبدالقادر بېدل او يو شمېر نور د يادولو وړ دي.

* Dr Liaqat *Tabban*, is Associate Professor at Bolan Mdeical College Quetta and is also specialist in the Nefrology.

هندي يا هراتي سبك چې کله پښتو ته غزوني وکړې نو په هغو ورځو شپو کښې په افغانستان کښې تیموري دولت سقوط وکړ، حمید مومند هم په هغو ورځو شپو کښې په نړۍ کښې سترګې روښې کړې دي (1080- 1148ق) چې د هندي سبك نامتو شاعر صائب تبریزي (1086- 1676ء) له دنیا سترګې پټې کړې دي.

حمید مومند د پښتو د هندي سبك امام ګڼل کیږي او یو شمېر شاعران د دهٔ د سبك پېروي کوي چې په هغو کښې حنان بارکزی، محمدي چمکنی، کامګار خټك، علي خان، اسلم لوڼ، شمس الدین کاکړ او څو نور شامل دي.

زلمی هیوادمل د حمید مومند د دیوان په سریزه کښې کاږي چې: "حمید د هندي سبك ټول خاصیتونه نهٔ دي اخستي بلکې بدلون یې په کښې کړی دی او شیدا خټك د هندي سبك ټول خصوصیات په حاد شکل کښې او اصلي معنا پښتو ته را ننوتي دي"(1).

ویل کیږي چې حمید د هندي سبك د صائب او کلیم غوندې او شیدا لکه د بېدل او ناصر په ډول دي. د حمید او شمس الدین پرتلیز جاج کښې په 46 مخ دا سوال را پورته شوی ؤ چې:

"حمید خو په پښتو کښې د خپل سبك پېرویان پیدا کړو او کاظم خان شیدا کوم چې په خپله هم د حمید پیروکار دی ولې د ناصر او بېدل په څېر خپل پیروکار په پښتو کښې پیدا نهٔ کړو"(2).

هم دلته مخته ویل شوي ؤ چې دا خبره خو یقیني ده چې د شیدا د اوچت خیال، ژورو استعاراتو، تشبیهاتو او مشکلو تورو کارونه د دې تپوس ځواب کېدای شي"(3).

پښتو شاعري مخ په وړاندې روانه ده او د هندي سبك پیروکاران هم پیدا کیږي خو په اوسني وخت کښې د پښتو په هندي سبك کښې چې د پښتو نازك خیال شاعر محمد صدیق پسرلي کوم مقام دی هغه به زمونږ د موضوع یوه برخه وي، لیکن په دې لیکنه کښې به د موضوع بنیادي نکته د پسرلي په غزل کښې عقلي او حسیي تشبیهات وي، ځکه چې د هندي سبك د یو شمېر په ځانګړنو کښې یوه د تشبیهاتو استعاراتو او کنایو و نوښت او تازګي ته پاملرنه هم ده.

لکــه څرنګــه چــې معلومــه ده چــې علــم بيــان پــه څلورموضــوعاتو تشــبيه، استعاره، کنايه او مجاز مرسل بحث کوي.

تشــبيه پــه لغــت کښــې تمثيــل او ورتــه ګڼلــو تــه ويــل کيــږي او پــه اصــطلاح کښــې د ورتــه والــي هغــه اړيکــي دي چــې د يــوۀ ځــانګړني غــرض دپــاره يــې ويــونکي د دوو يــا ډېــرو تــر مــنځ د يــوۀ يــا ډېــرو مشــترکو صــفتونو لــه املــه د برخېزونو په واسطه څرګندوي"(4).

د تشــبيه څلــور ارکــان وي. (1) مشــبه (2) مشــبه بــه (3) د تشــبيه وجــه (4) د تشبيه ټکی. بېلګه: ملاله د لمر غوندې ځليږي.

(1) ملالــه مشــبه (2) لمــر مشــبه بــه (3) ځليــږي د شــبه وجــه (4) غونــدې د تشبيه ټکي، برخېز.

پــه علــم بيــان کښــې تشــبيه پــه پنځــۀ ډول وېشــل کيــږي چــې پــه هغــو کښــې بــه مــونږ د پســرلي صــاحب شــاعري يــوازې د لــومړي وېش پــه اســاس څېــړو، د تشــبيه دا ډول پــه دوو برخــو حســي او عقــل وېشــل کيــږي، حســي تشــبيه هغــه وي چــې پېژندنــه او ادراك يــې د انســان پــه پينځــو حواســو (حــواس خمســه) کېــدلای شي"(5).

او عقلــي تشــبيه هغــه وي چــې پېژندنــه درك او د مقــام ټاکنــه يــې پــه عقــل کيــږي. لکه څرنګه چې څرګنده ده چې تشبيه په کلام کښې خوند، ښکلا، کيف او اساني پيدا کوي خو دا دومره ژور علم دی لکه سمندر چې ساحل نۀ لري.

هرکلــه چــې شــاعر حســي او عقلــي تشــبيه ګــانې کــاروي نــو دا د شــاعر پــه ذهنــي بلوغــت، پراخــې مطــالعې، ژورې مشــاهدې او نابغــه کېــدلو دلالــت وي، ځکــه چــې د انســان خپــل حــواس څــومره مضــبوط، توانــا او تېــز وي پــه هغــه ډول بــه د دۀ تشــبيهات هــم نــادره، نــازك او نــوي وي، د انســان حــواس خمســه پــه ښســتيز ډول د دمــاغ ســره تړلــې وي پــه نــورو ټکــو کښــې انســان د حــواس خمســه (Sensury system) لــه لارې و دمــاغ تــه د علــم و هنــر لارې جــوړوي، بيــا دا علــم و هنــر پــه دمــاغ کښــې مــنظم کيــږي او د هــم دې حــواس خمســه لــه لارې ببرتــه د عمــل ډګــر تــه را وزي او هــر فنکــار د خپــل فــن پــر اســاس د دې حواســو ګتــه ترلاســه کــوي چــې مصــور د مصــورۍ، موســيقار د موســيقۍ او شــاعر د شــاعرۍ لــه لارې د دې اظهار کوي.

اوس دا سوال چې حسي تشبیه لوړ مقام لري که عقلي؟ دا تپوس ښایي مختـه خپل ځواب وشندي خو دلته یوازې دا ویل به کافي وي چې د حسي او عقلي تشبیه ګانو ترون هم د شاعر د لوړوالي په خپله اظهار وي.

مونږ چې کله د محمد صدیق پسرلي شاعري لولو نو په هغه کښې حسي او عقلي دواړې تشبیه ګانې په ژور سمندر کښې د موتیو په څېر په لاس راځي او لوستونکي ورته حیران شي چې دې تشبیه ګانو ته کومې پیمانې کښېږدو.

د اختصار له کبله مې د پسرلي صاحب د کتاب "د نی کوڅه" د لومړیو درو سوو مخونو څخه د سل تشبیه ګانو انتخاب وکړ او په هغو کښې مې د حسي او عقلي تشبیه ګانو بحث ته د قلم لاړ هواره کړه، که څهٔ هم پسرلی په خپله د خپل شعر په حقله وایي:

څـهٔ بـه پـه مـا ویـاړي پسـرلیه! ملکـه د شـعر
بـس زړو جـامو تـه د هنـر نـوې پینـه راغلـم"(6)

د پسرلي په دې سلو کښې زیات شمېر د هغو تشبیه ګانو دی چې په کومو کښې مشبه عقله او مشبه به حسي وي او د دې تشبیه ګانو شمېر 36 جوړېږي.

هیلـې مـې پـه زړهٔ کښـې شـوې د شـمعې پـه څېـر اور اوبـهٔ
ګـرم نـهٔ یـم پسـرلیه کـه مـې ژونـد تـه اور اوبـهٔ وایـم

په دې شعر کښې د هیلې مشبه عقلي تشبیه د شمعې مشبه به حسي سره ورکړل شوې ده.

څـهٔ بـه مـو د حسـن لـوی جهـان تـه وربخښـلي وي
دا وړه هسـتي کـه لکـه وره پـه یـم کښـې وشـندو

هستي (عقلي) ته د وره (حسي) سره تشبیه ورکول شوې ده.

ځـواني شـه ختمـه او ورو ورو د زړهٔ لـه زوره وزم
ځـم د فریـاد غونـدې د نـی لـه تشـه کـوره وزم

دلتــه د فريــاد مشــبه (عقلــي) تشــبه د نــی مشــبه بــه (حســي) ســره ورکــړل شــوې ده. پــه لاتــدې نيو شــعرو کښــې هــم تاســو د تشــبيه دواړې خــواوې پــه اسانه فهمــولی شــی چــې مشــبه دي عقلــي او مشــبه بــه يــې حســي وي، کــوم چــې د شــاعر د ژور فکــر او لــوړ هنــر ســره ســره د دهٔ د تشــبيه ګــانو د نازکتيــا او لــوړ خيــال عکاســي هــم کــوي، هــم دا ســترې ګرانــو لوســتونکو تــه پريــږم چــې هغــوئ دي لــه دې شــعرو څخــه عقلي او حسي تشبيه ګانې سره بېلې کړي:

لکـــه حيـــا چـــې د ښايســـت پـــه ســـپوږمۍ ســـتوري تـــومبي
د خواريکښـــــو مســـــتقبل هـــــم دا خـــــولې رونـــــوي (7)

بېرتـــه يـــې د شـــور غونـــدې کوځـــو تـــه ور بللـــی يـــم
مخـــه مـــې د زوړ غونـــدې هـــر څـــو لـــه ښـــاره ونيولـــه (90)

مـــا پـــه خپلـــه خوښـــه لکـــه هـــر د خپلـــواکۍ شـــهيد
بـــزه لمـــن د مړينـــې د ژونـــدون لـــه عـــاره ونيولـــه (90)

د زړهٔ داغونـــــه ښـــــکارول د بېـــــدردۍ نخښـــــې دي
ځمـــه پـــر مـــخ لکـــه نســـيم لـــه لالـــه زاره درومـــو (91)

نـــور بـــه چـــا تـــه څـــهٔ وايـــو چـــې چـــا نـــهٔ لـــرې پاتـــه يـــو
اوس چـــې لکـــه ســـاه د مـــړهٔ لـــه ځانـــه لـــرې پاتـــه يـــو (103)

وخـــت لکـــه جعلـــي نوټونـــه اور کـــړو پـــه هـــر چـــا پـــورې
خيـــر دی کـــه لـــه ګټـــې لـــه تاوانـــه لـــرې پاتـــه يـــو (105)

تـــه کـــه مـــې تنکـــو هيلـــو تـــه لـــږ څـــهٔ لاره پرانېـــزې
تيـــر مـــزل بـــه درســـت لکـــه دريـــا لـــه يـــاده وباســـم (119)

## دويم وېش:

د محمـد صـديق پسـرلي پـه شعرو کښـې پـه دويـم قطـار کښـې هغـه تشـبيه ګـانې د شـمېر لـه پلـوه زيـاتې دي پـه کومـو کښـې چـې مشـبه او مشـبه بـه دواړې حسي وي او شمېر يې په سلو کښې 33 دی.

دا حسي تشبيه ګاني د شاعر د ژورو حواسو وکالت کوي، که يو خوا د شاعر باصره (د ليدلو ځواك) تېز و تند وي نو بله خوا د دۀ سامعه (اورېدل) هم دومره قوي وي چې هسې يو کړپ شي نو د دۀ غوږونه د هغۀ ادراك کولای شي، په دې صفت کښې د شاعر شامه (بويول) دومره حساسه وي چې د هرې خوشبويي او بد بويي ادراك سمدلاسه کولای شي، د دې په څنګ کښې د ذايقې (د څکلو) حس يې هم د خوږ، تريخ، ترش او تريو توپير په اسانه کولای شي او د لامسه (محسوسولو ځواك) حس خو يې هيڅ ځواب نۀ لري.

مونږ چې دا واړه خوبياني د پسرلي په تشبيه ګانو کښې لټوو نو ګوته په غاښ شو چې دا اوچت شاعر څرنګه زمونږ د ټولنې د وګړو نهام ؤ.

په زړۀ به څو زغمو د ځان د پټولو مشار
لکه اجساد د فرعونانو له احرامه وځو (92)

دلته زړۀ (مشبه) حسي د اجساد (د جسد جمع مشبه به) حسي سره تشبيه شوی دی.

څوك چې لکه سپانده زړۀ نري اور ته نيوی نۀ شي
سپو يې لا په بوټو په همت باندې متلی دي (113)

دلته هم زړۀ (مشبه) حسي سپانده (سپېلني، مشبه به) حسي سره تشبيه شوی دی.

د تا له خولې ږغېږم څۀ چې غواړې هغه وايم
پسرلی دي لکه نی له بله رازه مه پوښته(56)

دلته پسرلی حسي (مشبه) د نی حسي (مشبه به) سره تړلې شوی دی، په لاندېنيو شعرونو کښې هم د پسرلي تشبيه ګانې په غور ځنګ دي چې دواړې خواوې يې حسي دي او د دۀ د ژورو حساسو ځانګړنې او پېلامې دي.

داسې لکه پټ چې وي له سترګو اور په تېرو کښې
شوق د لېوني زړۀ د ويشتو ؤ خپور په تېرو کښې(62)

چې واړه تن شي يوه تناکه لکه سين له ميني
د مرګ تر پولې په ستړيا د مزل څه پوهيږي(80)

پښې که ورته تينګې کړو مشکل هسې مشکل ايسي
ورو ورو به کبل غونډې ساحه د چمن ونيسو(89)

تل به لکه شمع پښه پر ځای شوځي
څوك مه شه ګمراه په خپلو اوښکو کښې(98)

ولې به د پرخو غونډې هو بوتي ته نهٔ ژاړو
مځکې نه پردي شو له اسمانه لرې پاته يو(105)

شور د ځوانۍ ختم شو زور د زړهٔ لاهغه دی
اوس لکه د عطرو بوئ غلي ځو په ښکليو پسې(108)

خوند له مينې اخلي لکه سکور له اوره نهٔ ژاړي
دريغ د ساړهٔ ژوند مې لکه پرخه ژړولی زړهٔ(111)

**دريم وېش:** د پسرلي د "نی کوڅه" کښې د شمېر له پلوه اتلس فيصده هغه تشبيه ګانې په دريمه درجه کښې راځي په کومو کښې چې مشبه او مشبه به دواړې عقلي (معقول) وي، يعنې به څرګندو حواسو نهٔ معلوميږي بلکې د حميد مومند دا شعر:

د سکون په نيم سيري به يې پرې نهٔ کړم
هسې لوی د يار د هجر سفر راغی"(7)

په دې شعر کښې و يوې ناروغۍ نيم سيري ته د هجر و سفر سره تشبيه ورکړل شوې ده چې دواړې خواوې يې عقلي دي.

راشئ په دې لړ کښې د پسرلي و شعرو ته ځير شو چې په څهٔ ډول يې د عقلي و فهمه کار اخسته دی.

پوښتنې ته مې خپله سوې ساه تله او راتله
هغه هم لکه وېره په اکراه تله او راتله(168)

په دې شعر کښې ساه مشبه له ويرې مشبه به سره تشبيه شوې ده او د تشبيه دواړې خواوې يې عقلي دي.

تمامه شپه دي ساه وهلې تر درشله درځم
بيا مې را ستون کړي خپل امېد لکه منلې دعا (171)

د اميد دواړې خواوې اميد مشبه او منلې دعا مشبه به عقلي دي.

له واړه ستونځو سره شمعې ورته سر سماوه
د عشق مستي لکه هستي په هيڅ زياته نۀ وه (216)

په دې شعر کښې مستي له هستي سره تشبيه شوې ده چې دواړې خواوې يې عقلي دي.

دغه ډول دغه لاندينيو شعرو ته ځير شئ په کومو کښې چې دواړې خواوې پسرلي عقلي را اخستې دي.

درست عمر مې د ناز ملکه وربنې تصور ته
راتله لکه په خوب کښې ناڅاه تله او راتله (168)

شور مې شا ته پرېښود چې د ژوند له ښاره ووتم
پټه خولۀ له ښاره لکه تللې لاره ووتم (173)

د فضل په باران به يې شنه شي څۀ اوبۀ
چې ژوند لکه پسرلی تش په آروز کښې تېروي (176)

الله څومره مشکل دي وېروونکي پړاوونه
انجام مو مطمئين کړه د اغاز غوندې له مينې (233)

ښايي يو تصوير به وم د دهر په هينداره کښې
لږ څۀ يې ښکاره کړم لکه نۀ چې وم فنا شومه (256)

بن نۀ يو چې ومو غوړوي د سر سبزۍ بهار
وخت لکه د سوال لمن بې ځايه غوړولي يو (259)

لکـــه خپـــل فکـــر يمـــه بنـــد د کمتـــرۍ پـــه لومـــو
د وصـــل بـــزم تـــه دي هـــم چـــې نـــوك نيـــولی يمـــه(58)

**ځلــورم وېــش:** د پسـرلي پـه شـعرو کښـې تـر ټولـو لـږ ونـډه (8) د هغـو تشـبيهاتو ده پـه کومـو کښـې چـې مشـبه حسـي او مشـبه بـه عقلـي وي، لکـه د شمس الدين کاکړ دا شعر:

لکـــه پټـــې وي اوبـــۀ پـــه ګـــل ګـــلاب کښـــې
پـــه بـــدن کښـــې هســـې بيـــا دی روح زمـــا(8)

پـه دې شـعر کښـې د اوبـو حسـي تشـبيه د روح عقلـي سـره ورکـړل شـوې ده. راشـئ د حسـي او عقلـي تشـبيه ګـانو دا ګـډ امتـزاج د پسـرلي پـه رنګينـو اشـعارو کښې ولټوو.

د ګلشـــن ګلونـــو مـــه يـــوه خپـــل ګرېـــوان درپســـې څېرلـــی
لکـــه عطـــر د ګلونـــو پـــټ اواز شـــوم درتـــه راغلـــم(297)

په دې شعر کښې عطر مشبه حسي او پټ اواز مشبه به عقلي راغلی دی.

هغـــه لېـــدر نـــۀ دی درځـــئ چـــې پـــه جمـــرو يـــې ولـــو
چـــې د شـــيطان غونـــدې لـــه خپلـــو کســـرو نـــۀ راوځـــي(302)

پـه دې شـعر کښـې لېـدر مشـبه حسـي او شـيطان مشـبه بـه عقلـي راغلـی دی ځکـه چې شيطان کـه څۀ هم يو وجود ګڼل کيږي خو مونږ يې په خپلو حواسو نۀ شو محسوسولی او په عقلي ډول مو منلی دی.

د حســـن لمـــره! پلوشـــې دي تـــر زړۀ ننغـــې وځـــي
د ســـرطان غونـــدې نســـکوري رېښـــې مـــه زغلـــوه(267)

پـه دې شـعر کښـې د حسـن لمـر مشـبه حسـي د سـرطان مشـبه بـه عقلـي سـره تشـبيه شـوی دی ولـې چـې سـرطان کـه څۀ هـم يـوه نـاروغي ده لـېکن خپـل وجـود اثبـات تـر هغـه نۀ ښـکاره کـوي چـې انسـان لـه دننـه و نـۀ خـوري ځکـه سـرطان مـونږ په عقلي ډول منلی دی.

په دې بحث کښې مونږ د محمد صديق پسرلي حسي او عقلي تشبيه ګانې په تفصيل وڅېړلې او دا خبره لکه د لمر تابانه شوه چې د پسرلي تشبيه ګانې د حسي او عقلي دواړو له پلوه دومره قوي، نادرې او ژورې دي چې د انسان عقل ورته حيرانيږي. اوس دا سوال ذهن ته غزونې کوي چې د پسرلي په تشبيهاتو کښې کوم توري، ځايونه او څېزونه (شيان) زيات کارول شوي دي؟ چې له هغه څخه مونږ د دۀ فکري او ذهني اپروچ زېرمه کړو، ځکه چې انسان له کوم شي څه اغېزمن کيږي هغه د دۀ په نفسياتو ګډيږي او بيا د دې نفسياتو اظهار د دۀ په شاعري کښې موندل کيږي.

مونږ د دې بحث دپاره د پسرلي هغه سل تشبيهاتو ته يو ځل بيا رجوع کوو او ګورو چې د دۀ تشبيهات د کوم نفسياتي عمله اغېز اخلي.

د پسرلي په شاعري کښې د شمعې تشبيه تر ټولو زياته (په سلو کښې اتلس وار کارول شوې ده، شمع تشبيه کول اسانه خبره ده لېکن په بېل بېل خيال او جلا جلا تورو او شيانو سره په بېل بېل وخت د پسرلي د لوړ ذوق او دقيق نظر عکاسي کوي.

د بېلګې په ډول يو ځای شمع د اوښکو سره، بل ځای د ژړا څڅېدلو سره، کله د هستي کله د نېستي وخت ناوخته د هيلو کله د ژوند د بې ارزۍ کله د سترګو د پاکۍ، کله د وړانګو سره، کله د پتنګ د سوځېدو سره، غرض د ژوند داسې اړخ نشته چې شمع ورسره نسبت، نزدېکت او مشابهت لري او د پسرلي دي هغه خوا ته نظر او فکر اوښتی نۀ وي خو د شمعې څاڅکي په خپل مخ د لاړو سره تشبيه کول ښايي مونږ په ټولو آريائي ژبو کښې هم و نۀ موندو.

کاش چې په ايرو مو کومه شمع اوښکې تويې کړي
مونږ به هم پتنګ غوندې اورونو ته تن ونيسو (89)

د شمعو غوندې ژاړم په مزار د مرمتونو
د يار وعود ښنی پرې بلوم او بويوم (6)

هر څو که پسرليه! سر تر پايه اور اوبۀ کړو عشق
بيا هم لکه شمعې خپلو پښو ته څڅېدلي يو (48)

لطــــف د نظـــر دي لکـــه شـــمع ويلـــي ويلـــې کـــړم
څـهٔ وکـړم نګـاه چـې پـه محفـل کښـې غرېـو نيـولې ده(116)

د هغـــو ســـترګو پـــه پـــاکۍ بـــه لاهـــم شـــك وي د چـــا
چـې لکـه شـمع پرېمينځـي واړه شـپه سـر پـه وړانګـو(155)

ماضـــي يـــې د نګهـــت لـــه خـــاطرو راتـــه رېغـــږي
د وصـل پـه محفـل کښـې چـې ويلېـږم لکـه شـمع(278)

د پسـرلي دا غـزل د شـمعې پـه حقلـه انتخـاب دی چـې هـر څـو وسـتايل شـوي کم دی چې وايي:

هغـــه چـــې بـــې مهـــرو تـــه پـــه ســـر نيســـي ســـپرليه! اور
تـــل تـــل بـــه پـــه خپـــل مـــخ تـــوکي نـــاړه لکـــه شـــمع(16)

اوس دا خبـره چـې پسـرلی ولـې د شـمعې څخـه دومـره اغېـزمن دی چـې د دهٔ شـعرونه د شـمعې پـه چپـه نـهٔ بشـپړه کيـږي؟ يـا هغـه کـوم قـوت دی چـې شـمعې د دهٔ پـر شـاعرۍ اغېـز کـړی دی؟ د لـومړۍ پوښـتنې ځـواب د پسـرلي د ژونـد د داخلـي حالـت څخـه معلوميـدای شي خـو دا خبـرو يقينـي ده چـې د پسـرلي شـمع د کـاظم خـان شـيدا د حبـاب پـه څېـر د دهٔ پـه شـعرو کښـې غورځنګونـه وهـي، شـيدا خـو پـه هنـد کښـې ژونـد کـاوهٔ او هلتـه د ګنګـا او جمنـا غونـډې بـې شـمېره دريـابونو او ويـالو کښـې ژونـد لـه نژدې ليـدل کېـدی شـو خـو دا هېـرول هـم نـهٔ دي پـه کـار چې د پسـرلي ژونـد هـم لـومړی سر پـه کليـوال مـاحول کنـدوز کښـې بيـا پـه پاکســتان کښــې پــه مهــاجرت کښــې او د افغانســتان پــه ســرو لمبــو کښــې د شمعې سره نژدې هرو مرو اموخته پاته شوی وي.

د دويمـې پوښـتنې ځـواب دا دی چـې شـمع پـه خپلـه يـوه دنيـا ده د خپلـو ډېـرو ځـانګړنو سـربېره يـوه دا ځانګړنـه يـې زمـونږ دپـاره کـافي ده چـې د خپلـې بـې ثبـاتۍ لـه عملـه مـونږ تـه رڼـاوې خپـروي او پـه خپلـه پـه سـرهٔ اور کښـې مسکوټ کيږي.

د شـيدا د حبـاب پـه څېـر د پسـرلي پـه شـعرو کښـې دويـم زيـات تشـبيهات د اوبـو د څپـو او بحـر مونـدل کيـږي، خـو د شـمعې اوښـکې او د بحـر څپـې داسـې

شیان دي چې لومړی سر خاموش وي او د څۀ پېښې وروسته غورځنګ او حرکت په کښې پیدا کیږي هم دا حرکتونه او غورځنګونه بیا شاعر د بېلو بېلو زاویو څخه د خپل لوړ ذوق و شوق او فکر په اساس د تشبیه په ګاڼه ښایسته کوي.

په دې ساحل کښې مو د ژند ښانې لیږ ولیدې
لکه د بحر څپې بېرته له کناره درومو (91)

لکه بحر چې څپې یې یوه پر بلې ورغوړیږي
په جنون کښې هم هوکیږي اضطراب په اضطراب کښې (95)

د څپو غوندې له بحره د کوم ورك ساحل په تمه
په ژوندون کښې په ژوندوني ځو قدم قدم له ژونده (134)

بحر نۀ وینو پسرلیه! لکه ځګ په غټو سترګو
نقابونه به چشمې وای که لېمې مو څۀ بینا وای (148)

د بحر او څپو په اړوند د پسرلي هره تشبیه د یو جلا مضمون تقاضا کوي خصوصاً وروستی شعر خو یې په دې ارزي چې د سرو زرو په اوبو ولیکل شي. د بحر او څپو تناسب د پسرلي په شعرو کښې په سلو کښې اووۀ جوړیږي هم په دغه تناسب (په سل کښې اووۀ) د دۀ په شعرو کښې د مینې تشبیه ګانې هم راغلې دي، مینه د هر شاعر په ختمه کښې اخښل شوې وي خو مینه په کوم کوم ډول او کومو زاویو او خیال شاعر د تشبیه سره راوړي، دا د شاعر کمال څرګندوي.

که مینه د نړۍ غوندې له غمه جوړه وه
ښکلا هم وه وحشي هوسۍ له دمه جوړه وه

تل پاته به عشق که وسوسې وسوځوو
ققنس غوندې د ژوند خلي خاشې وسوځوو (221)

چې څومره ځي مخ په زړښت مینې مې
لکه سیلاب هغومره زور واخیست (124)

په وروستي شعر کښې د مينې د سېلاب سره تشبيه او د زړښت او زور پېوستون يو داسې نازك خيال دى چې ډېر عام دى خو نهام دى، د عام وګړي له فکر څخه لېکن د پسرلي رسا ذهن څومره په ښکلو تورو په اسانه تشبيه او نازك خيال سره را يو ځاى کړې ده.

د صديق پسرلي د تشبيه ګانو د شمېر په درېم قطار کښې درې موضوع ګانې په برابر مقدار (په سلو کښې پنځۀ پنځۀ) راغلې. په دې درو موضوعاتو کښې پسرلي باد يا ګردباد او حسن په ترتيب سره راغلى دى، خو په دې ټول کښې پسرلي دا کمال کړى دى چې هره تشبيه يې له بله بېله نادره او نازکه ده، د مثال په ډول چې مونږ کله د پسرلي تشبيه ګانې را اخلو نو د پسرلي د اوو رنګو په څېر پسرلي په دې کښې اووۀ رنګونه ګډ کړي دي او يوه بله د پام وړ خبره چې پسرلي د خپل تخلص تقدس څومره په احترام او ادب ساتلى دى او په څومره حسين او مهين انداز يې کارولى دى هغه د ډاډ وړ دى.

پسرلى به څۀ ګلونه راوړي د ښايست له ښه
چې د نشې غونډې له ځانه بې خبر ورځي(117)

تا ته به پسرليه! د خپل شعر غوره پرېږدمه
لکه شګوفه که له رنګين بهاره ووتم(173)

لکه سيل اخستى مړ چې يوه څپه په بلې سپاري
عجب واوښتو پسرليه! د زمان په سلسلو کښې(109)

چې کله مونږ د ګردباد تشبيه ګانې را اخلو نو زمونږ ذهن هم د باد په څېر په هوا ګډېږي، او ذهن مې د ورېمو په تازګي او خنکي بيداره کېږي.

که نۀ غواړې چې زړونه درپسې وي لکه ګرد
په سترګو کښې مرموزې اشارې مه پاروه(133)

کوم پټ احساس به تخنولى وي زما تلې هم
چې د ګرد باد غونډې بې ډوله ګډېدلى يمه(58)

د حسن په حقله د پسرلي ذوق نظر خپل ثاني نۀ لري ځکه زړۀ ته سکون رسوونکی هر شی حسين وي او د پسرلي هر شعر او هره تشبيه زړۀ ته سکون او خوشحالي رسوي، ځکه مونږ په دې ويلو هم ګرم نۀ يو چې د پسرلي په شعرو کښې د جمالياتو ونډه هم د يو بشپړه کتاب ليکلو غوښتنه کوي.

راشئ د پسرلي حسن نظر د حسن په هينداره کښې ولټوو.

تـــا چـــې لوېـــدلی زړۀ را پورتـــه کـــړ پـــه حســـن نظـــر
لکـــه نشـــه مـــې راغلـــه خـــولې تـــه غلـــي غلـــي دعـــا(171)

داســـې د غوښـــتو لـــه لمبـــو ســـپينېږي مـــخ د مينـــې
لکـــه چـــې ســـوې ځړيکـــې مينـــه د آبلـــې رونـــوي(71)

جلـــوې د حســـن مـــې ترخـــه ژونـــد تـــه خوږلـــت رابخښـــي
لکـــه پخيـــږي چـــې پـــه څـــانګو کښـــې ثمـــر پـــه وړانګـــو(155)

د موضوع په اړه د پسرلي په تشبيه ګانو کښې شپږ نور داسې موضوعات شته چې هغه په برابر شمېر يعني په سلو کښې درې درې واره کارول شوې دي، دا شپږ موضوعات کبل، فی، سيوری، عکس يا تصوير، اوښکه او ساه دي، له دې په څنګ کښې په دې سلو تشبيه ګانو کښې واوري، پرخه، د عطرو بوی، سپانده (سپېلني) او بڼ غوندې توري او موضوعات هم را وړل شوي دي.

الغرض د ژوند يوه داسې موضوع نشته چې هغه دې پسرلي د تشبيه په ګاڼۀ پسوللې نۀ وي، يا هغه ته د پسرلي رسا فکر ور رسېدلی نۀ وي.

خو په دې ځای زۀ په دې وئيلو هيڅ باك نۀ محسوسوم چې ووايم د کاظم خان شيدا نه پس محمد صديق پسرلی د سبك هندي دوئم ستر شاعر دی چې نۀ يوازې د نادرو تشبيهاتو او نوو استعاراتو په حواله پښتو شاعرۍ کښې نوې تجربې يې کړې دي بلکې د هندي سبك هغه تولې ځانګړنې يې هم پوره کړې دي او په دې بنياد د پښتو شعري ادب په تاريخ کښې به د يو نازك خياله شاعر په حيث د هغۀ نوم تل ژوندی وي.

***

# حوالې

(1) هیوادمل، زلمی، سریزه، د عبد الحمید مومند دیوان، د افغانستان د علومو اکادمي پښتو ټولنه، کابل، 1363ھ ش، مخ31، 32.

(2) تابان، ډاکټر لیاقت، د حمید او شمس الدین پرتلیز جاج، ملګري لیکوال کوټه، 2011ء، مخ46.

(3) هم دغه اثر.

(4) مسلم دوست، عبدالرحیم، خوږه ژبه، ذی الحجه 1421ھ، سبا کتابتون، ډهکي نعلبندي قصه خوانی بازار پېښور، مخ108.

(5) هم دغه اثر، مخ110.

(6) پسرلی، محمد صدیق، د نی کوشه، د ناهید کتاب خپرولو مؤسسه، دانش کتابخانه قصه خوانی پېښور، 1999ء، مخ251.

**پاملرنه**: په مقاله کښې د پسرلي ټول اشعار د هم دغه کتاب څخه زېرمه شوي دي.

(7) د عبدالحمید مومند کلیات، سریزه، څېړنه او ډون او وېي پانګه د محمد اصف صمیم، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، 2004ء، مخ295.

(8) د شمس الدین کاکړ دیوان، سریزه او وېي پانګه د مرستیال سر محقق نصر الله ناصر او تبسم حقمل، د خوست خپلواکه فرهنګي ټولنه، 1384ھ، مخ291.